سید عظیم حسینی ۲۰۲۳.۱۲.۲۰

# د افغانستان په لوی قاموس کی د «قوش تپی» کانال د مجتمعو پروژه پیژندنه

**د بلخ، فارياب او جوزجان په ولايتونو کې د قوش تيپی د کانال پر شا او خوا ځمکو باندی د عصری او ميکانيزه کرنيز او مالداری فارمونو ، د خوراکی توکود فابريکو، د لاسی صنايعو او نورو صنعتونولپاره د صنعتی پارکونو، د اوبو، باد او لمر د انرژۍ د دستګاوو، د تجارتی بازارونواو د استوګنی کليو او ښارګوتو د پراختيا لپاره د هر ډول څيرنو پر بنسټ د يو جامع ماستر پلان او تفصيلی پلانونو دجوړولو لپاره يو وړانديز(طرحه)**

د سید عظیم حسینی او دیپلوم انجنیر غلام سخی حسن زاده په ګډه مرسته

۱۵ قوس ۱۴۰۲ ۶ دیسمبر ۲۰۲۳

فرانسه-آلمان

**<u>د سرټکو فهرست</u>**


I. لنډیز؛

II. په بلخ، فاریاب او جوزجان ولایتونو کې د قوش تیپې کانال د مجتمعو پروژی هراړخیزو څېړنو او د هغوی پر بنسټ د یو جامع پراختیایز ماستر پلان جوړولو ته اړ تیا؛

III. د قوش تیپې کانال د مجتمعو پروژی د پراختیا موخې؛

IV. د قوش تیپې کانال د مجتمعوپروژی د خپلواک او عالي دولتي کمیسیون (بورد) جوړول؛

V. د قوش تیپې کانال زراعتي-صنعتي مجتمعو د جوړولو څرنګوالی د بلخ، فاریاب او جوزجان په ولایتونو کې ؛

VI. د قوش تیپې کانال د مجتمعوپروژی په فعالولو کې راتلونکو سکتورونو او د سکتوري ځانګو دنډو ته په شمول د لاندی ذکر شویو ټکو، خاصه پاملرنه:

1) تخصصی مدیریت او نظارت؛
2) مهالویش او پړاوونه؛
3) اړیکی او ټولنیزه پراختیا؛
4) مسلکی، حرفوی او تخنیکی ښوونی ، روزني ، بشري منابع او علمی څیړنی ؛
5) د روزنیزو کورسونو له لارې د مدیرانو او کارمندانو مهارتونو ته وده ورکول؛
6) د سرې، اصلاح شویو تخمونو اوعصری ماشینونو چمتو کول؛
7) میکانیزه ، صحی، طبیعی او عصری کرنه ، صحی ،طبیعی اوعصری مالداري او ساتنځایونه؛
8) صنعتی پارکونه او تجارت، د لاسي صنایعو په ګډون؛
9) د داخلي موادو څخه په استفادی ښاري پراختیا او کور جوړونه ، د ښارګوټو او استوګنځایونو رامینځته کول، په شمول د کلیو او بانډو استوګنځایونه، د اوبو رسولو، بریښنا، فاضله موادو، پاخه سړکونو، او د څارویو د ساتلو اسانتیاو سره ؛
10) د کار فرصتونه رامنځته کول؛
11) د قوش تیپې کانال د مجتمعو د پروژی په پراختیا کښی د ښځو ونډه؛
12) د قوش تیپې کانال د مجتمعو د پروژی په پراختیا کښی د ځوانانو ونډه؛
13) د کروندګرو د ملاتړ لپاره د سپما صندوق، کرنیز او پراختیایزو بانکونو جوړول؛
14) د کرنیزو کوپراتیفونو جوړول؛

VII. د چاپیریال داغیزو مفصلې څیړنی؛

VIII. د قوش تیپې کانال د مجتمعو پروژی د پراختیا لپاره مالي مسایل اود قراردادونو وړاندیز شوی ډولونه؛

IX. ضمیمی

(1) د اړینو څیړنو وړاندیز
(2) د کرنیزو څیړنواو لیکونو د انتیرنیت آدرسونه د معلوماتو لپاره

## I. لنډیز؛

د قوشتیپی کانال په بشپړیدو سره به د افغانستان د بلخ، جوزجان او فاریاب په ولایتونو کې د قوش تیپی د کانال پر شا او خوا ځمکو باندی د عصری او میکانیزه کرنیز او مالدارۍ فارمونو ، د خوراکی توکود فابریکو، د لاسی صنایعو او نورو صنعتونولپاره د صنعتی پارکونو، د اوبو،لمر او باد د انرژۍ د دستگاوو، د تجارتی بازارونواو د استوګنی کلیو او ښارګوټو د پراختیا او جوړولو سره د سیمې د اقتصادي ودې لپاره ډیر فرصتونه رامنځته شي. په دی لیکنه کښی له دی وروسته دی لویی او ملی پروژی ته په لنډ ډول **<u>د قوش تیپی د مجتمعو پروژه</u>** ویل کیږی. د وضاحت لپاره د قوش تیپی د کا نال کیندنی پروژه چه اوس د تطبیق په حال کښی ده یوه د مجتمعو د پروژی څخه جلا پروژه ده چه په دی لیکنیه کښی ور ته د لنډو معلوماتو لپاره اشاره شوی ده اما ور باندی دلته بحث نکیږی.




د قوش تپی د مجتمعو د پروژی په فرصتونو کې به سربیره په ځان بساینی، هیواد ته د اسعارو راوړونکو هر ډول محصولاتو تولید ، د کاري فرصتونو رامنځته کول او د سیمې د خلکو د ژوند ښه کول شامل وي، له دې فرصتونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره هراړخیز **<u>څیړنو او د همدی څیړنو بر بنسټ د یو جامع ماستر پلان او تفصیلی پلانونو</u>** جوړونې ته اړتیا ده. ددی پلانونو په جوړولو کښی پر سیره په نورو، باید لاندې ټکی شامل وي(ضمیمو ته هم مراجعه وکړی):

(1) د هیواد، سیمې او نړی دهیوادونو د اړتیاووامارکیټونو څیړنی او تفصیلي تحلیلونه دحاصلاتواو تولیداتو دځرګندولو اوټاکلو لپاره
(2) د هیواد، سیمې او نړی دهیوادونو د مارکیټونو د قوتونو او کمزوریو پیژندل
(3) د پرمختیایي اهدافو او لومړیتوبونو ټاکل
(4) دهر اړخیزوڅیړنو پر بنسټ د ماسټر پلان او تفصیلی پلانونو جوړول
(5) د پلانونو پلي کول او د هغوی څارنه

د دغو او نورو ټکو له مخې دې د هیواد او بلخصوص د قوش تیپی د مجتمعو د پروژی شا او خوا ولایتونو د اقتصادي پرمختګ لپاره یوهر اړخیز او ګټور پروګرام د یو پرمختللی او عصری ماسترپلان پربنسټ چمتو شي. دا پروګرام کولی شي د هیواد او په ځانګړی ډول د قوش تیپی د سیمې د خلکو د اقتصاد او ژوندانه وضعیت په ښه کولو کې مرسته وکړي او دا سیمه د افغانستان په یو عصری زراعتي - صنعتي مرکز بدله کړي.

د قوش تیپي کانال او د قوش تیپی کانال د مجتمعو د پروژی پراختیا د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره یو زرین فرصت دی. <u>د غیر پلاني او خپلسري مجتمعو پراختیا د مخنیوي لپاره،</u> دولت باید د کرنې او مالدارۍ ټول تخنیکي امکانات په نظر کې نیولو سره د دې پروژې د پراختیا لپاره <u>د یو خپلواک کمیسیون او اداری له لارې اقتصادي، ټولنیزی، چاپیریال، او داسې نوری څیړنی تر سره کړی او د هغو پر بنسټ یو تخصصی ماسټر پلان، تفصیلی پلانونه، قوانین او لار ښودونه</u> ددی لویی او ملی پروژی د عملی کولو لپاره چمتو کړي. د هر ډول غیر پلانی ا و خپلسری پراختیا مخنیوی باید وشی.

د قوش تیپي کانال په افغانستان او سیمه کې د اوبو یو له سترو کانالونو څخه دی، چې د بلخ ولایت له کلدار ولسوالۍ څخه د فاریاب ولایت اندخوی ولسوالۍ ته د ۲۸۵ کیلومترو په اوږدوالي، ۱۰۰ متره پلنوالی او ۸ متره ژوروالي سره تر کار لاندې دی. د قوش تیپي کانال د بلخ ولایت د خلم ، نهرشاهی او دولت آباد ولسوالیو څخه تیریږي او د جوزجان ولایت له اقچې، مردیان او خواجه دوکوه ولسوالیو ته رسیږي او له هغه ځایه د فاریاب ولایت اندخوی ولسوالۍ ته ځي. د دغه لوی کانال په لاره کې د بریښنا د تولید لپاره کوچنی بندونه، د اوبو لګولو سیستمونه په پام کې نیول شوي چې په پلي کېدو سره به یې په یو کال کې ۹ میلیارد متر مکعبه اوبه زیرمه شي او ۶۰۰ زره هکتاره کرنیزه للمی ځمکه به په خړوبی ځمکه بدله شي.




دقوش تيپي د کانال  پروژه په ۳ پړاوونو کي پلي کيږي. لومړی پړاو د بلخ د کلدار ولسوالی د امو سیند له غاړې څخه د بلخ تر دولت اباد ولسوالی پورې په ۱۰۸ کیلومترو کي څنګه چه په لاندی عکس کښی بنودل شوی ده، پلی شوه.













دوهم پړاو د بلخ له دولت اباد ولسوالی څخه تر اندخوی فاریاب پورې ۱۷۷ کیلومتره اوږدوالی لري او کار يی جريان لری.

او دریم پړاو د کرنیزو ځمکو ویش ته ځانګړی شوی دی.




**د قوش تيپی کانال د کرنیزو-صنعتی مجتمعو پلان جوړونه، د اوبو لګو ول او د ځمکی ویش**

دا مرحله یو ډیر مهم گام دی چې د حکومت مشرتابه ځانگړې پاملرنې ته اړتیا لري. دا مرحله هغه مهال پیل کیږي چې ټول اړخیزې څیړنې وشي او د دې مطالعاتو پر بنسټ ماسټر پلان او تفصیلي پلانونه ترتیب شي او د هغه له مخې به د قوش تیپې زراعتي - صنعتي مجتمعو پروژه پلي کیږي.
د پورتني یادشوي ماسټر پلان او مفصلو پلانونو پر بنسټ، بیا د اوبو د کنټرول دروازې او د اوبولگولو شبکې کیندل کیږي او دځمکې ویش پیلیږي. د قوش تیپې کانال د مجتمعو پروژو څیړنه او پلان باید ژر تر ژره په تخصصي او تخنیکي ډول د عالي دولتي کمیسیون او اجراییه اداری تر رهبرۍ او څارنې لاندې پیل شي.
د قوش تیپې کانال د مجتمعو د پراختیا پروژې ، د کانال د جوړولو پروژې په پرتله خورا پیچلې، وخت نیوونکې او د لویو پانگونو او اقتصادي پرمختگ پروژې دي. که افغانستان غواړي چې کرنه، مالداري او صنعت یې د نړیوالو معیارونو سره سم شي او خپل محصولات صادر او هیواد ته بهرني اسعار راوړي، باید ددې دلوی خدای (ج) له لوري راکړ شوي فرصت څخه سل سلنه گټه پورته کړو.

د یادولو وړ ده چې "امو دریا" د پامیر له غرونو څخه سرچینه اخلي او له هغې څخه شاوخوا 1126 کیلومتره د افغانستان په شمالي پولو کې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان، د بدخشان، تخار، کندز، بلخ، جوزجان اوفاریاب ولایتونو د څنگ سره تیریږي، چې یو د منځنۍ اسیا له ډیرو اوبو لرونکو سیندونو څخه گڼل کیږي. د آمو سیند ځینې برخې د کښتیو د تگ راتگ وړ دي، له همدې امله د "شیرخان" او "حیرتان" بندرونو له لارې د افغانستان ډېری صادراتي او وارداتي توکي د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره تبادله کېږي. د امو سیند یو نړیوال سیند گڼل کیږي، د افغانستان او د هغه د څلورو شمالي گاونډیو ترمنځ گډ طبیعي پوله ده او د افغانستان او دغو هیوادونو تر منځ ځمکنۍ پوله گڼل کیږي.

د دې کانال په پرانیستلو سره به د افغانستان د شمالي سیمې اقتصادي ځواک په ځانگړې توگه د کرنې په برخه کې د پام وړ وده وکړي. د لوړ کیفیت او حاصلخیزې ځمکې او ښه اقلیم او جغرافیایي شرایطو سره، حتی د سیمې لپاره د ډیرو کرنیزو توکو عرضه کوونکې کیدی شي. د ځینو کارپوهانو په اند، له دغه کانال څخه په گټې اخیستنې افغانستان نه یوازې د خپلو غنمو په ځان بساینه بلکې د سیمې هېوادونو ته هم غنم صادرولای شي.

## II. په بلخ، فاریاب او جوزجان ولایتونو کې د قوش تیپې کانال د مجتمعو پروژې هراړخیزو څیړنو او د هغوی پر بنسټ د یو جامع پراختیایز ماسټر پلان جوړولو ته اړ تیا؛

دا طرح د همدې مقصد لپاره منحیث <u>د خبرتیا او پاملرنې</u> جوړه شوې ده او د چارو واکمنانو ته وړاندې کیږي چه د یوتفصیلي او هراړخیز ماسټر پلان په جوړولو سره له دې فرصت څخه په غوره توگه گټه واخلی او دهیواد او سیمې لپاره اقتصادی پراختیا او روښانه راتلونکی رامنځته کړی. ټول لاندی ټکی ددی طرحی هغه وړاندیزونه دی چه د څیړنو داجراکولو لپاره او د هغوی پر بنسټ د یو جامع ماسټر پلان د جوړولو لپاره را ټول شوی دی. دا طرح په هیڅ صورت سره د داسی یوی لویی پروژې او مجتمعو د پراختیا په هکله بشپره نه ده. د قوشتیپی د مجتمعو د پراختیا د مسؤلینوډېډه به وی چه نورپاتی ټول ټکی د څیړنو لپاره چه د هغوی پر بنسټ یو جامع پراختیایز ماسټر پلان جوړیږی، په نظر کښی و نیسی.

**<u>د قوش تیپی د مجتمعو د پروژې</u>** اهمیت او پراخوالي ته په پام سره چې نه یوازې د افغانستان بلکې په سیمه کې یوه له سترو پروژو څخه شمیرل کیږي، باید هڅه وشي چې د مسلي ټول اړخونه په هر اړخیزه توگه وڅیړل شي او یو هر اړخیز جامع ماسټر پلان جوړ شي. د پروژې اهمیت او پراخوالي ته په پام سره باید ټولي <u>زیربناوي او حقوقي اسانتیاوي</u> برابرې شي ترڅو خصوصي سکتور وهڅول شي اولاړښود شي چه د دې پروژې په تطبیق کې د لاندې ټکوپه نظر نیولو سره برخه واخلي:

(1) تکنالوژی، تخصص او تجربه:
خصوصي سکتور باید د کرهنې، مالدارۍ، صنعت ، تجارت، د انرژی تولید او ښارگوټو،کلیو او بازارونو په مختلفو برخو کې اړینه تکنالوژی، مهارتونه او تجربی ولري، په شمول د میکانیزه زراعت او مالداری ، تخصص او مدیریت . دا تخصص او تجربه د پروژې د بریالیتوب لپاره اړینه ده.

(2) پانگه اچونه:
خصوصي سکتور کولی شي د پروژې لپاره اړین مالي سرچینې چمتو کړي. دا کولی شي د پروژې لگښتونو کمولو او د پلي کولو په چټکتیا کې مرسته وکړي.

(3) نوښت:
خصوصي سکتور کولی شي د نوښتي حل لارو په وړاندې کولو سره د پروژې فعالیت ښه کولو کې مهم رول و لوبوی لکه چه په پرمختللو هیوادونو کې خصوصي سکتور د لویو ملي پروژو په تطبیق کې مهم رول لوبوي. د بیلگې په توگه، د پاناما کانال په پروژه کې، خصوصي سکتور د پروژې تمویل او پلي کولو مسولیت درلود. دا پروژه په بریالیتوب سره پلي شوه او د پاناما په اقتصاد باندې خورا مثبت اغیزه درلوده.

(4) په افغانستان کې هم خصوصي سکتور کولای شي د قوش تیپې کانال د مجتمعو پروژې په تطبیق کې مهم او گټور رول ولوبوي، لکه:

a. د لګښت کمول: د خصوصي سکټور په ونډې سره، د پروژې د تمویل او پلي کولو لپاره د خصوصي شرکتونو ترمنځ سیالي کولی شي د پروژې د لګښتونو کمولو لامل شي.
b. د پروژې د تطبیق چټکتیا: د خصوصي سکټور په ګډون د خصوصي شرکتونو له مهارتونو او تجربو څخه ګټه اخیستل کېږي. دا کولی شي د پروژې پلي کولو ګړندی لامل شي.
c. ● د پروژې کیفیت ښه کول: دا ممکنه ده چې د خصوصي شرکتونو نوښت، تکنالوژی او تخصص د پروژې کیفیت ښه کړي.

(5) **د قوش تیپی د مجتمعو په پروژی** کې د خصوصي سکټور ګډون د دې پروژې د بریالیتوب او په افغانستان کې د هغې د مثبتو اغیزو سره مرسته کولی شي. د خصوصي سکټور د ونډې لپاره ځینې عملي حل لارې په لاندې ډول دي:
a. په دولتي پروژو کې د خصوصي سکټور د ونډې لپاره د یو مناسب قانوني او تنظیمي چوکاټ رامنځته کول.
b. د دولتي پروژو په پلي کولو کې د خصوصي سکټور سره د همغږۍ او همکارۍ لپاره د دولتي مستقل کمیسیون او اداری جوړول.
c. په دولتي پروژو کې د خصوصي سکټور د ونډې د ګټو په اړه پراخ تبلیغ او معلومات.

(6) د دې ستراتیژیو په خپلولو سره دا شوني ده چې **د قوش تیپی د مجتمعو د پروژی** په ګډون په لویو ملي پروژو کې د خصوصي سکټور د پراخ ګډون لپاره زمینه برابره شي. نور بحث په اوومه برخه کې »مالي مسایل او قراردادونه« وړاندې کیږی.

## III. د قوش تیپی کانال د مجتمعو پروژی د پراختیا موخې؛

1) د دولتي ځمکو په کارولو سره د کرنیزو-صنعتي تولیداتو د زیاتوالي لپاره د کرنیزو – صنعتي مجتمعو جوړول.
2) د کرنیزو تولیداتو زیاتوالی:
د امو سیند څخه د افغانستان شمال وچو او نیمه وچو سیمو ته د اوبو په لېږدولو سره، د قوش تیپی کانال کولی شي په دغو سیمو کې د کرنیزو تولیداتو په زیاتوالي کې مرسته وکړي. دا کولی شي په دې سیمو کې د بزګرانو د ژوند د ښه والي او د فقر د کمولو لامل شي.
3) د څښاک او صنعتي اوبو برابرول:
د قوش تیپی کانال کولی شي د افغانستان په شمالي سیمو کې د څښاک او صنعتي اوبو اړتیا پوره کړي. دا کولی شي په دې سیمو کې د خلکو د ژوند کیفیت ښه کولو کې مرسته وکړي.
4) د ګرځندوی پراختیا:
قوش تیپی کانال د مجتمعو پروژه کولی شي د افغانستان په شمالي سیمو کې د ګرځندوی له پراختیا سره مرسته وکړي. دا کولی شي د کار فرصتونه رامینځته کړي او د سیمې اقتصاد ښه کړي.
5) د دې اهدافو سربیره، د قوش تیپی د مجتمعو پروژه کولی شي په افغانستان کې نورې مثبتې اغیزې ولري، په شمول:
a. د مهاجرت کموالی: د افغانستان په شمالي سیمو کې د کرنیزو تولیداتو زیاتوالی او د ژوند د کیفیت ښه والی کولی شي له دې سیمو څخه د مهاجرت د کمیدو لامل شي.
b. د خوراکي توکو د خوندیتوب د ترلاسه کولو لپاره د مالدارۍ سکټور پراختیا؛
c. د باغدارۍ وده او د نباتاتو تنوع؛
d. د طبیعي زیرمو د تولید او مدیریت ښه والی؛
e. د خوراکي صنایعو جوړول؛
f. د صادراتو پراختیا؛
g. د کارموندنې رامنځته کول، د خلکو د ژوند د کچې لوړول او د فقر کچه راټیټول؛

## IV. د قوش تیپی د مجتمعو د پروژی د پراختیا لپاره د خپلواک عالي دولتي کمیسیون جوړول

د قوش تیپی د مجتمعو د پروژی د حیاتي اهمیت او د چارو د تنظیم په موخه باید د کابینې په چوکاټ کې د قوش تیپی د مجتمعو پروژی د خپلواک او عالي کمیسیون په نوم یو دولتي کمیسیون جوړ شی. د دی کمیسیون په اجرایوی اداره کښی باید د کرنې، صنعت او سوداګرۍ، مالیې، اوبو او برېښنا، ښار جوړونې او کور جوړونې، ترانسپورت، چاپېریال ساتنې، فواید عامې، اطلاعاتو او کلتور وزارتونو، خصوصی سکټور او ملي شرکت غړی ګډون ولری.

د قوش تیپی د مجتمعو پروژی د سالم مدیریت لپاره د خپلواک اوعالي دولتي کمیسیون د جوړښت په ټاکلو کې باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

1) تخصص: د کمیسیون غړي بلخصوص د کمیسیون اجرایوی اداره باید د قوش تیپی د مجتمعو پروژی اړوند ټولو برخو کې کافي تخصص او تجربه ولري.

2) نمایندګي: کمیسیون باید د پروژې د ټولو شریکانو استازي ولري. په دې ګروپونو کې حکومت، څېړنیزاو علمی مرکزونه، خصوصي سکتور، مدني ټولنه او بزګران شامل دي.
3) خپلواکي: د کمیسیون غړي باید د پریکړې کولو لپاره کافي خپلواکي ولري. دا دې ته اړتیا لري چې پروژه او د کمیسیون غړي د هر ډول سیاسي یا اقتصادي فشار څخه خوندي وي.

په لاندې کې د کمیسیون د هر غړي دندې تشریح د وړاندیز په ډول:

1) د کمیسیون مشر: د کمیسیون رییس چه کابینې او یا د هیواد لمړی مشر ته راپور ورکوونکی دی، د کمیسیون د کړنو د لارښوونې او څارنې دنده په غاړه لري. هغه باید د پروژې اړوند نورو بنسټونو سره همغږي وکړي.
2) د دولت استازی: د دولت استازی په کمیسیون کې د دولت د استازیتوب مسولیت لري. هغوی باید ډاډ ترلاسه کړي چې په پروژه کې د دولت ګټې خوندي دي.
3) د خصوصي سکتور استازی: د خصوصي سکتور استازی په کمیسیون کې د بزګرانو او نورو خصوصي سکتورونو د ګټو د استازیتوب مسولیت لري. هغه باید ډاډ ترلاسه کړي چې د دې سکتورونو ګټې په پروژه کې خوندی دی.
4) د مدني ټولنې استازی: د مدني ټولنې استازی په کمیسیون کې د مدني ټولنې د ګټو د استازیتوب مسولیت لري. هغه باید ډاډ ترلاسه کړي چې چاپیریال ګټې او نور ټولنیز مسایل په پروژه کې خوندی دی.
5) د کمیسیون تخصصي غړي: د کمیسیون ځانګړي غړي کمیسیون ته د تخصصي مشورې ورکولو مسولیت لري. دا مشورې د کرنې، ښاري پراختیا او کور جوړونې، چاپیریال، قانون، صنعت او سوداګرۍ، مالیې، اوبو او برېښنا، ترانسپورټ، چاپیریال اداري، عامه کارونو، اطلاعاتو او کلتور او ملي شرکت په برخو کې کېدای شي.

د نړیوالو تجربو پر بنسټ د قوش تیپی د مجتمعو پروژی د پیلولو لپاره د خپلواک عالي کمیسیون تخنیکي او مدیریتي دندې چه د خپلواک عالی کمیسیون د اجرایوی اداری له خوا مدیریت کیږی، په لاندې ډول دي:

a. تخنیکي دندې:

1) د قوش تیپی د مجتمعو پروژی طرح ، څیړنی، ماستر پلان، تفصیلی پلانونه او نور قوانین او لار ښودونه:
د کمیسیون اجرایوی اداره باید د پروژې د پورته ذکر شویو اسنادو او پلانونو د جوړولومسولیت په غاړه ولري. په دې کې د کانال د شمال او سویل اړخونو پلان جوړونه او د پروژې اړوند نور مسایل شامل دي. لاندې مهم مسایل باید په ماسټر پلان کې شامل شي چې د پروژې په کچه د خپلواک عالي کمیسیون د تخصصي کمیټو لخوا ډیزاین شوی او اړوندو ادارو ته به د تطبیق لپاره لیږل کیږي:
   1) د کرنې او څارویو پالنه، د کوکنارو پر ځای د ګلابو او زعفرانو د ګلانو د فارمونو د جوړولو په ګډون ؛
   2) ښاري او ولایتی تفریحي پارکونه ؛او ښکلی شنې ځمکی او منظرې؛
   3) دبزګرانو استوګن ځایونه، د ټولو عصري اسانتیاوو سره ؛
   4) د اوبو رسول؛
   5) بریښنا؛
   6) کانالیزاسیون؛
   7) پاخه سړکونه؛
   8) صنعتي پارکونه، په شمول د لاسي صنایعو لکه غالی او نور؛
   9) لوی صنعتي - زراعتي مرکزونه؛
   10) د موسمي میوو او سبزیجاتو ذخیره کولو لپاره د سړو ګودامونو جوړول؛
   11) د بورې تولید، د نختابی تولید، د غالی تار تولید، او د مختلفو ټوکرانو او محصولاتو نساجی؛
   12) د قوش تیپی د مجتمعو پروژی په زراعتي صنعتي کمپلکس کې د کورني خامو موادو پر بنسټ د چرم فابریکې او د وړیو تولید؛
   13) د خوراکی توکو، جوس او جام د فابریکو جوړول د اروپا او امریکا په معیار سره؛
   14) د داخلي او بهرنیو نندارتونونو جوړول؛
   15) د قوش تیپی د مجتمعوپه پروژه کښی په ټولو دریو ولایتونو کې د دایمي سوداګرۍ لپاره د زړو بازارونو یا چت پټ بازار جوړول؛
   16) ګاونډیو ولایتونو ته د طبیعی ګاز لیږد؛
   17) په جوزجان او فاریاب کې د ګازو د کیمیاوي سرې د تولید لویه فابریکه؛

2) د پروژې د جوړولو څارنه:
خپلواک عالي کمیسیون باید د پروژې د جوړولو د څارنې مسولیت په غاړه ولري. پدې کې د پروژې د پرمختګ څارنه اوکنترولول ، د ساختمان کیفیت ډاډمن کول، او د احتمالي نیمګړتیاوو حل کول شامل دي.
3) د پروژې سپارل:

خپلواک عالي کميسيون بايد د پروژې د سپارلو مسوليت په غاړه ولري. پدې کې پيرودونکي ته د پروژې سپارل او د پروژې سم فعاليت تضمين کول شامل دي.

b. د مديريت دندې:

1) د بوديجې چمتو کول او د پروژې تمويل کول:
خپلواک عالي کميسيون بايد د بوديجې چمتو کولو او د پروژې تمويل مسوليت په غاړه ولري. پدې کې د مالي سرچينو پيژندل، د پانګوالو جذبول، او د پروژې مالي سرچينو اداره کول شامل دي.

2) د بشري منابعو پلان جوړونه او مديريت:
خپلواک عالي کميسيون بايد د پروژې د بشري منابعو پلان جوړوني او مديريت مسوليت ولري. پدې کې د بشري منابعو استخدام او روزنه، او د کار اړيکو اداره کول شامل دي.

3) اړيکې او معلومات:
خپلواک عالي کميسيون بايد د پروژې د اړيکو او معلوماتو پدې کې خلکو ته دخبر ورکولو مسؤليت ولري او د ذينفعو ډلو ملاتړ لاس ته راوړي.

c. د پروژې پلان او طرحه:

1) د خپلواک عالي کميسيون لومړۍ دنده دا ده چې د پروژې ماسټر پلان په پراخه کچه او مختلف تخنيکي ابعادو کې پلان او ډيزاين کړي. پدې کې د پروژې پورې اړوند هرڅه شامل دي. پدې مرحله کې، خپلواک عالي کميسيون بايد د متخصصينو او مشاورينو په کارولو سره د پروژې لپاره هر اړخيزې څيړنې وکړي او يو د تطبيق وړ ماسټر پلان چمتو کړي.
2) د اصلي فصلونو د کرلو لپاره د دولتي ځمکو د ساحې ټاکل د ماسټر پلان پر بنسټ؛
3) د عمده حاصلاتو لکه غنم، پنبه، لوبيا، زعفران او دانه د کرلو لپاره د دولتي ځمکو تخصيص د ماسټر پلان پر بنسټ؛
4) د ماسټر پلان پر بنسټ، د صنعتي پارکونو د جوړولو لپاره د دولتي ځمکو تخصيص، په شمول د لاسي صنايعو لکه غالۍ او نور، د کرنيزو صنعتي مجتمعو جوړول، د موسمي ميوو او سبزيجاتو ذخيره کولو لپاره د شنو خونو جوړول؛
5) د کور دننه او بهر د نندارتونونو جوړول، د دايمي سوداګرۍ لپاره بازارونه د پخوانيو بازارونو يا چت پټ په بڼه جوړول؛
6) د قوش تيپې د مجتمعوپه پروژه کښې په ولايتونو کې د لويو زراعتي-صنعتي-تجارتي مجتمعو او مرکزونو د رهبريو ټاکل؛

د نړيوالو تجربو له مخې ، د قوش تيپې د مجتمعو پروژې په پيل کښې، خپلواک عالي کميسيون بايد په لاندې مشخص شوي چوکاټ کې د پورته تخنيکي او مديريتي دندو د ترسره کولو مسوليت ولري. د دغو کارونو په سمه توګه ترسره کول د قوش تيپې د مجتمعود پروژې په برياليتوب کې مهم رول لوبولی شي.

يادونه: د خپلواک عالي کميسيون تنظيم او چارې د يوې کړنلارې له مخې تنظيم او پرمخ وړل کيږي.

### V. د قوش تيپې کانال زراعتي-صنعتي مجتمعو د جوړولو څرنګوالی د بلخ، فارياب، جوزجان په ولايتونو کې ؛

په ساحه کې د چارو د پرمخ بيولو لپاره، اړينه ده چې د ماسټر پلان د پلي کولو لپاره په ولايتي کچه محلي اداري جوړې شي. د بلخ، فارياب، جوزجان ولايتونو په کچه د قوش تيپې د مجتمعو د پروژې د مديريت طريقه په لاندې ډولونو کيدای شي:

1) د هلمند د وادی د پروژې د ادارې په ډول؛
2) د ننګرهار د کانال پروژې د مديريت په ډول؛
3) د کرنې، صنايعو او سوداګرۍ، ماليې، اوبو او برېښنا، ښاري پراختيا او کور جوړوني، ترانسپورټ، چاپېريال ادارې؛ فوايد عامې، اطلاعاتو او کلتور او ملي شرکت په ګډون د يوه ګډ دولتي شرکت جوړولو په ډول؛
4) د عامه او خصوصي مشارکت (PPP) پر بنسټ د ګډ عامه او خصوصي شرکت رامينځته کولو په ډول؛
5) د دولتي تشبثاتو په بڼه؛
6) د ماسټر پلان له مخې د زراعتي-صنعتي مجتمعو د رهبري کولو لپاره، په هر ولايت کې به د پورتنيو امکاناتو څخه د يوې په چوکاټ کې سيمه ايزه اداره جوړه شي.

### VI. د قوش تيپې کانال د مجتمعوپروژې په فعالولو کې راتلونکو سکتورونو او د سکتوري څانګو دندو ته په شمول د لاندې ذکر شويوټکو، خاصه پاملرنه:

1. لومړۍ برخه: تخصصي مديريت او نظارت: دا په جلا پروسيجر کې تنظيم کيږي.

2. دوهمه برخه: مهال ويش او پړاوونه
2.1. د پړاوونو ويش

2.1.1. د ځانګړو اهدافو او لومړیتوبونو پر بنسټ د مهالویش د پړاوونو ټاکل؛
2.1.2. د پروژې د تطبیق لپاره هراړخیز مهال ویش جوړول؛
2.2. د خطرونو مدیریت
2.2.1. د پروژې د پلي کولو په هر پړاو کې د احتمالي خطرونو پیژندل او اداره کول؛
2.2.2. د غیر متوقع مسلو سره د مقابلې لپاره د پلانونو جوړول؛

3. دریمه برخه: اړیکی او ټولنیزه پراختیا
3.1. د اعلاناتو پروګرام
3.1.1. د عامو خلکو د خبرولو لپاره د اعلاناتو پروګرام طرح او پلي کول؛
3.1.2. د مختلفو رسنیو، ټولنیزو شبکو، او محلي تجلیلونوڅخه استفاده کول؛
3.2. د ځوانانو سره اړیکی
3.2.1. د ځوانانو سره د اړیکو ښه کول ، په فعاله توګه ګډون ورکول او د طرحی په اړه د معلوماتو ورکول؛
3.2.2. د ځوانانو د ملاتړ د جلبولو لپاره د فعالیتونو او کمپاینونو ترسره کول؛
3.3. د سیمه ایزو ټولنو سره تعامل
3.3.1. د ځایی خلکو سره غونډې کول، د اړتیاوو پیژندل او تعامل ته وده ورکول؛
3.3.2. په محلي تصمیم نیولو کې د ځوانانو او ښځو د ګډون هڅول؛
3.3.3. د محلي سوداګرۍ د منځته راوړلو لپاره د هڅوني پروګرامونو جوړول؛

4. څلرمه برخه: مسلکی، حرفوی او تخنیکی ښوونی ، روزني ، بشري منابع او علمی څیرنی
4.1. د مدیریت روزنه
4.1.1. د فني، کرنې او مالدارۍ په برخو کې د مسلکي کارګرانو، مرستیال انجینرانو او متخصصینو د روزنې لپاره د حرفوي یا مسلکي ښوونځیو، تخنیکي، کرنې او مالدارۍ انستیتیوتونو او پوهنتونونو جوړول د لیلیې په شمول؛
4.1.2. د پلان پورې اړوند مدیرانو او کارمندانو لپاره د روزنې کورسونه؛
4.1.3. د دوامداره روزنې له لارې د کارمندانو مهارتونو ته وده ورکول؛
4.2. د کرنیزو او مالدارۍ څیړنو د پراختیا د مرکز جوړول
دا مرکز یو علمي بنسټ دی چې په بیلابیلو کرنیزو برخو کې د څیړنې او پراختیا لپاره رامینځته شوی. دا مرکزونه معمولا په عامه یا خصوصي سکتور پورې اړه لري او د خپلو فعالیتونو د تمویل لپاره عامه یا خصوصي بسپنې او بودجې کاروي. د کرنې او مالدارۍ د څیړنې او پراختیا د مرکز اصلي دندې په لاندې ډول دي:
4.2.1. په مختلفو کرنیزو برخو کې د بنسټیزو څیړنو ترسره کول، لکه د کرنیزو محصولاتو تنوع او تولید، د څارویو او چرګانو نسل پالنه، د کرنیزو محصولاتو ساتنه، او د اوبو او خاورې مدیریت؛
4.2.2. کروندګرو او د کرنیزو محصولاتو تولیدونکو ته د نویو ټیکنالوژیو پراختیا او لیږد؛
4.2.3. د کروندګرو او د کرنیزو محصولاتو د تولیدونکو روزنه او پیاوړتیا؛
4.2.4. د دوامدارې کرنې اړوند برخو کې څیړنه او پراختیا؛
4.3. د کارمندانو ګډون
4.3.1. د پلان د فعالیت په ښه کولو کې د کارمندانو د فعال ګډون لپاره د فرصتونو رامینځته کول؛
4.3.2. د کارمندانو لخوا د نظریاتو هڅول او رغنده نیوکه؛

5. پنځمه برخه: د روزنیزو کورسونو له لارې د مدیرانو او کارمندانو مهارتونو ته وده ورکول
5.1. په مدیریت کې د وروستي پوهې او نړیوالو تجربو کارول؛
5.2. د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د بزګرانو لپاره د روزنیزو کورسونو جوړول؛
5.3. د بزګرانو د پوهې د لوړولو لپاره د پروګرامونو پراختیا؛

6. شپږمه برخه: سری او ماشینونه
6.1. مالي مرسته:
6.1.1. د سرې او کرنیزو ماشینونو د برابرولو لپاره د مالي امکاناتو برابرول؛
6.1.2. د کروندګرو لپاره د ځانګړي کریډیټ لینونو جوړول؛
6.2. د سرې او ماشینونو ویش:
6.2.1. د توزیع ونکو سره په همکارۍ د سرې او ماشینونو د ویش شبکه جوړول؛
6.2.2. د کرنیزو خامو موادو ته د لاسرسي د اسانتیا لپاره د سیمه ایزو ویشلو مرکزونو جوړول؛

7. اوومه برخه: میکانیزه ، صحی، طبیعي او عصري کرنه ، صحی ،طبیعي اوعصري مالداري او ساتنځایونه؛
7.1. د دې پلان د موخو د ترلاسه کولو لپاره د دولتي ځمکو د چمتو کولو مرحلې:
7.1.1. د جیولوژیکي نقشو جوړول او د اړتیاو پراساس د ځمکې غوره تخصیص؛
7.1.2. په هر ولایت کې د دې پروژې په بیلابیلو برخو کې د کانال د شمالي او سویلي برخې د عملی کولو پلانونو طرح د څو اړخیزو کارولو لپاره
7.2. کرنیز تنوع د ګل ګلاب او زعفرانو په شمول
7.2.1. د فصلونواو د سیمې د هوا او اقلیم سره سم د متنوع کرنیزو محصولاتو کښت ته هڅول؛
7.2.2. د کروندګرو ملاتړ کول چې د بازار اړتیاوو سره سم محصولات غوره کړي؛
7.3. د اوبولګولو مدیریت
7.3.1. د اوبولګولو عصري، دوامداره او اغیزمن سیستمونه رامینځته کول؛
7.3.2. په کرنه کې د اوبو د مدیریت د غوره تخنیکونو څخه استفاده؛
7.3.3. د اوبولګولو د مدیریت په برخه کې د بزګرانو د روزني لپاره د روزنیزو مرکزونو جوړول؛
7.4. د ټیکنالوژۍ وده
7.4.1. خلکو ته د نویو ټیکنالوژیو د معرفي کولو لپاره د نمونو پروژو ښودل؛
7.4.2. د ځمکو څخه د اعظمي استفادې لپاره د کوپراتیفونو جوړول؛
7.5. د باغدارۍ او نباتاتو تنوع
7.5.1. د باغدارۍ د غوره میتودونو د زده کولو لپاره د ماډل او نمونی باغونو جوړول؛
7.5.2. په باغونو کې د محلي نسلونو کارولو ته وده ورکول؛
7.5.3. د کرنې، مالدارۍ او باغدارۍ په برخه کې د محلي اقتصادي مشارکت او پانګونې هڅونه؛
7.5.4. د باغدارۍ د غوره کړنو په برخه کې د بزګرانو لپاره د روزنیزو کورسونو جوړول؛
7.5.5. د بزګرانو ترمنځ د پوهې او تجربو د تبادلې لپاره د فرصتونو رامنځته کول؛
7.6. د بزګرانو ملاتړ او په کرنو کې تنوع
7.6.1. د بازار د اړتیاوو سره سم د مختلفو باغونو کښت هڅول؛
7.6.2. له کروندګرو سره مرسته کول چې نوي او د ذیات او اضافه ارزښت محصولات تولید کړي؛
7.6.3. د نویو فصلونو د کرلو د هڅولو لپاره د مالي اسانتیاوو برابرول؛
7.6.4. بزګرانو ته د کرنې د غوره کړنو په اړه روزنه؛
7.7. د ځمکې ساتنه
7.7.1. د ځمکې د لویدو او له لاسه ورکولو د مخنیوي لپاره د ساتنې څیړنی کول؛
7.7.2. د اوبو د سرچینو د ساتلو لپاره د عصرې اوبولګولو سیستمونو ته وده ورکول؛
7.8. د کرنې میکانیزه کول
7.8.1. د کرنې میکانیزه کول کولی شي د تولید په زیاتوالي او د تولید د مصرف په کمولو کې مرسته وکړي.
7.9. څاروي
7.9.1. د مالدارۍ سکتور د کرنې یوه مهمه برخه ګرځول؛
7.9.2. د مالدارۍ د تجهیزاتو چمتو کول او د تجهیزاتو د چمتو کولو لپاره مالي اسانتیاوې برابرول؛
7.9.3. د اقتصادي فرصت په توګه او قتصادي پراختیا لپاره د عصري میتودونو په کارولو سره د مالدارۍ او د کبانو پالنه او روزنه پراختیا ته وده ورکول او هڅول؛
7.9.4. د بزګرانو لپاره د مالدارۍ په برخه کې د ورکشاپونو او روزنیزو کورسونو جوړول؛
7.9.5. د مالدارۍ په برخه کې په نویو تکنالوژیو کې د بزګرانو روزنه؛
7.9.6. د مالدارۍ د ودې او د کرنې سره د هغې د تړاو لپاره د ملاتړ پروګرامونو جوړول؛
7.9.7. د مالدارۍ د زیربنا او تجهیزاتو د ښه کولو لپاره د مالي اسانتیاوو برابرول؛
7.9.8. د تغذیې د سیستم په برخه کې د بزګرانو روزنه او د ښه والي لپاره د روزنیزو مرکزونو جوړول؛
7.10. د کورني څارویو د تغذیې مدیریت
7.10.1. د مالدارۍاو د کبانو پالنه او روزنه سکټور جوړول او پراختیا، د متخصصینو په همکارۍ ؛
7.10.2. د تجهیزاتو او د څارویو د نسلونو ښه والی او د غوښې او لبنیاتو د کیفیت او تولید زیاتول؛
7.10.3. د مالدارۍ د تجهیزاتو د ښه کولو لپاره د مالي امکاناتو او اسانتیاوو برابرول؛
7.10.4. د مالدارۍ د ښه مدیریت لپاره د تعلیمي مرکزونو جوړول؛
7.10.5. د محلي سوداګرۍ لپاره د هڅونې پروګرامونو جوړول؛
7.10.6. د څارویو د خوړو د تولید لپاره د څارویو د باغونو جوړول؛

8. اتمه برخه: صنعتی پارکونه او تجارت، د لاسي صنایعو په ګډون

8.1. د صنعتي پارکونو جوړول، په شمول د لاسي صنایعو لکه غالی او نور؛
8.2. د لویو صنعتي – کرنیزو مرکزونو جوړول: لوی صنعتي – کرنیز مرکزونه د کرنیزو محصولاتو په پروسس او بسته بندۍ کې مهم رول لوبولی شي. د کرنیزو صنایعو د لویو مرکزونو جوړول د ارزښت په زیاتوالي او د کرنیزو محصولاتو د ضایعاتو په کمولو کې مرسته کولای شي.
8.3. د موسمي میوو او سبزیجاتو ذخیره کولو لپاره د سړو ګودامونو جوړول؛
8.4. د بورۍ، پنبه، غالی اود غالیو تار، نختابی او د نساجیو د فابریکو پیاوړتیا ترڅو په هیواد کې دننه د پنبې له تولید څخه په استفادې د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره بیلابیل ټوکران ، غالی او نورې ټوټې تولید کړي.
8.5. د قوش تیپی د مجتمعو پروژې کې د کورني خامو موادو پر بنسټ د چرم فابریکې او د وړیو تولید؛
8.6. د اروپا یی او امریکایی معیارونو سره سم د کیننګ، جوس او جام فابریکې جوړول؛
8.7. د داخلي او بهرنیو ننداریتونونو جوړول؛
8.8. د قوش تیپی د مجتمعو پروژو په ګډون په ټولو دریو ولایتونو کې د دایمي سوداګرۍ لپاره د بازارونو یا چت پټ بازار جوړول؛

9. نهمه برخه: ښاري پراختیا او کور جوړونه – د ښارګوټو او استوګنځایونو رامینځته کول، په شمول د کلیو او بانډو استوګنځایونه، د اوبو رسولو، برېښنا، فاضله موادو، پاخه سړکونو، او د څارویو د ساتلو اسانتیاو سره د داخلي موادو څخه په استفادی
9.1. په دریو ولایتونو بلخ، فاریاب او جوزجان کې د ښاري کولو د ودې لپاره د ښارګوټو جوړول؛
9.2. د داخلي موادو کارول؛
9.3. د اوبو، برېښنا، فاضله اوبو او پاخه سړکونو برابرول؛

10. لسمه برخه: د کار فرصتونو رامینځته کول:
10.1. د بزګرانو د اقتصادي او ټولنیز وضعیت د ښه کولو لپاره پلان جوړونه؛
10.2. د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او پراختیا په برخه کې د اړینو تدابیرو نیول؛

11. یوولسمه برخه: په کرنه کې د ښځو رول
11.1. په کرنه او مالدارۍ کې د ښځو د رول پراختیا:
11.1.1. د روزنیزو کورسونو له لارې په کرنه کې د ښځو د رول ښه کول؛
11.1.2. په کرنیزو کوپراتیفونو کې د ښځو د فعالي ونډې هڅول؛

12. دوولسمه برخه: په کرنه کې د ځوانانو ګډون
12.1. د ځوانانو ملاتړ:
12.1.1. د کرنې برخې ته د ځوانانو د جذبولو لپاره د هڅونې پروګرامونو چمتو کول؛
12.1.2. د کرنې په برخه کې د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو رامنځته کول

13. دیارلسمه برخه: د کروندګرو د ملاتړ لپاره د سپما صندوق، کرنیز او پراختیایزو بانکونو جوړول
دکرنیزو او پراختیایزو بانکونو جوړول دېخوا په شان چه ښې تجربې د کروندګرو د پر مختګ او آسانتیاوو برابرولو لپاره، شوی دی، ښه به وی چه ددی لویې بروژی د تحقق او بریا لپاره بیا احیا شی. له بلی خوا که د کروندګرو د مرستو صندوق په دقت او اغېزمن ډول جوړ او پلی شي، کولای شي د کرنې په تولید، د بزګرانو په ژوند او د هېواد په اقتصادي پرمختګ مثبت اغېز وکړي. د کروندګرو د مرستې د سپما د صندق د اغېزمنتیا د زیاتولو لپاره ځینې ستراتیژۍ:
13.1. د ټولنې د مختلفو سکټورونو ترمنځ د مشارکت پراختیا: د دولت، غیر دولتي سازمانونو او خصوصي سکټور ترمنځ ملګرتیا کولی شي د سپما د صندق د مالي سرچینو په زیاتوالي او د ملاتړ پروګرامونو اغېزمن پلي کولو کې مرسته وکړي.
13.2. د بزګرانو حقیقي اړتیاوو ته پاملرنه: د سپما د صندق د ملاتړ پروګرامونه باید د بزګرانو د حقیقي اړتیاو پر بنسټ ډیزاین او پلي شي.
13.3. بزګرانو ته د مشورتي او ښوونیزو خدمتونو برابرول: بزګرانو ته د مشورتي او ښوونیزو خدمتونو برابرول کولای شي له هغوی سره مرسته وکړي چې د سپما د صندق له مالي سرچینو څخه په اغېزمنه توګه ګټه پورته کړي.

14. څوارلسمه برخه: د کرنیزو کوپراتیفونو جوړول
14.1. کرنیز کوپراتیفونه د کرنې په پراختیا کې مهم رول لوبولی شي. دا سازمانونه کولی شي د بزګرانو سره په مختلفو برخو کې مرسته وکړي، په شمول:
14.1.1. د تولیداتو بازارموندنه؛

14.1.2. مرستندویه تسهیلات؛

14.2. د کرنیزو کوپراتیفونو د جوړولو لپاره، لاندې کړنې ترسره کیدی شي:

14.2.1. کروندګرو ته ښوونه او روزنه؛

14.2.2. د ابتدايي پانګې برابرول؛

14.2.3. د اړینو زیربناوو جوړول؛

14.2.4. د کرنیزو کوپراتیفونو د جوړولو د هڅولو لپاره د مالي زیرمو جوړول؛

14.2.5. د کوپراتیفونو د فعالیت د ښه کولو لپاره تخنیکي مشورې ورکول؛

## VII. د چاپیریال داغیزو مفصلې څېړنې؛

د قوش تیپې کانال د مجتمعو پروژې په لاندې برخو کې د پام وړ چاپیریال اغیزې کولی شي:

1) د سیمې په نباتاتو او حیواناتو کې بدلون؛
2) د خاورې تخریب؛
3) د هوا ککړتیا؛

اړینه ده چې د دې اغیزو د کمولو لپاره، د پروژې په پلان کې لاندې اقدامات شامل شی:

1) د چاپیریال د پراخو څېړنو ترسره کول؛
2) د چاپیریال ساتنې د ټیکنالوژیو کارول؛
3) د چاپیریال ساتنې د پروګرامونو پلي کول؛

## VIII. د قوش تیپې کانال د مجتمعو پروژې د پراختیا لپاره مالي مسایل اود قراردادونو وړاندیز شوی ډولونه؛

1) د منابعو تخصیص او تعقیب لپاره د شفاف او د پلټنې وړ مالي مدیریت سیستم رامینځته کول.
2) د عامه او خصوصي مشارکت قراردادونو (عامه خصوصي مشارکت) کارول د نورو مسلو سره چې په اړوند قانون کې وړاندیز شوي هم کولی شي د دې ډول قراردادونو لپاره لاره هواره کړي:
3) د جوړولو، ګټه اخیستنې، او لیږد Build,Operate, Transfer (BOT) قرارداد: په دې ډول قراردادونو کې، شرکت یا د شرکتونو یوه ډله، وروسته له دې چې قرارداد ترلاسه کړي، پروژه په خپل مالي مصرف پلي کوي. د یوې محدودې مودې لپاره ګټه ترې اخلی او وروسته د توافق شوی میعاد بیا پروژه بل اړخ ته په وړیا توګه لیږدوی، کوم چې معمولا دولتي شرکتونه وي او یا په دولت پورې اړه لري. هغه څه چې ویل شوي د BOT قراردادونو عمومي او بشپړ تعریف دی. د BOT قراردادونه په ډیری سکتورونو او زیربنایي پروژو کې کارول کیږي، لکه:
4) د قوش تیپې د مجتمعو پروژې؛
5) د اورګاډې پټلی جوړول؛
6) د لویو لارو جوړول؛
7) د هوایي ډګرونو جوړول؛
8) د اوبو او برېښنا د لویو بندونو جوړول؛
9) د پیټرو کیمیکل کمپلیکسونو او نورو لویو پروژو قراردادونه :

a. د جوړولو، په خپل مالکیت کښې ساتلواو ګټې اخیستنې قراردادونه دBuild, Own, Operate (BOO) قراردادونو په توګه په لنډ ډول ویل کیږي. په نننی نړی کې، مختلف سوداګریز قراردادونه د هیوادونو په اقتصادي پرمختګ او د مختلفو شرکتونو په وده کې لوی رول لوبوي. په ځانګړې توګه په پرمختللو هیوادونو کې، چیرې چې د بهرنی پانګې، تخصص او ټیکنالوژۍ لیږد ته اړتیا تل احساس کیږي، یو له دې قراردادونو څخه چې د مخ پر ودې هیوادونو او خصوصي شرکتونو دواړو لپاره ډیرې ګټې لري، د پانګونې او تمویل قراردادونه دي. د پانګې اچونې قراردادونه مختلف ډولونه لري، او " د جوړولو، په خپل مالکیت کښې ساتلواو ګټې اخیستنې " قراردادونه، چې د BOO قراردادونو په نوم پیژندل کیږي، یود خورا مهمو قراردادونو څخه دي. د جوړولو، په خپل مالکیت کښې ساتلواو ګټې اخیستنې قرارداد څه شی دی؟ د BOO قراردادونه درې مرحلې لري، چې د پروژې جوړول ، پانګه اچوونکي ته د هغې مالکیت او په پای کې د پانګوال شرکت لخوا د پروژې څخه ګټه اخیستنه ده. په لاندې کې، موږ به د دې قرارداد له دریو مرحلو څخه هر یو له نژدې مطالعه کړو:

i. د قرارداد لومړۍ مرحله: د BOO په قراردادونو کې، یو پانګه اچوونکی، چې اکثرا یو شرکت یا د ځواکمنو بهرنیو خصوصي شرکتونو یوه ډله وي، له حکومت سره قرارداد کوي. خصوصي شرکت د قرارداد موضوع (چې دزراعت او مالداری د مجتمعو، انرژۍ ، هوايي ډګر، بندونو، د نفتو د تصفیې او یا د هیواد د نورو زیربناوو جوړول کېدای شي) په خپل مصرف او پانګې سره د جوړولو ژمنه کوي.

ii. د قرارداد دوهمه مرحله: د پروژې له جوړېدو او پیلېدو وروسته، د BOO د قرارداد له مخې، پانګه اچوونکي او یا د پانګه اچوونکو ډله د ټولې پروژې مالک کېږي او عامه سکتور ملکیت ورته د قانون له لارې او د قرارداد د شرایطوسره سم سپاری .
iii. د قرارداد دریمه مرحله: په پای کې، هغه پانګه اچوونکی او یا د پانګه اچوونکو ډله چې پروژه یې تر جوړېدو وروسته ملکیت شوه، پرته له کوم وخت محدودیت څخه به پروژه په کار اچوی او ملت ته به هغه خدمات چه په قراردا کښی ذکر شوی، وړاندی کوی.

b. د جوړولو، مالکیت، ګټې اخیستنې او انتقال قراردادونه . د جوړولو، مالکیت، ګټې اخیستنی او انتقال قراردادونه چه لنډیز یی (BOOT)، Build, Own, Operate, Transfer دی، دپروژې لمړی پړاو د BOO په شان دی. په دوهم پړاو کښی ، د ټاکلي وخت په پای کې دولت ته د پروژې د سپارلو مکلفیت د قرارداد یوه نه بېلېدونکې برخه ده.
د دې قراردادونو ګټې او جذابیت په عمده توګه په لاندې مهمو ټکو کې دی:

i. د دولت له بودیجې پرته دولتونه، په ځانګړې توګه کله چې د بودیجې کسر وي یا د بودیجې د برابرولو امکان نه وي، د لویو پروژو د ورکړې لپاره، لوی شرکتونه، البته، د متقابلو ګټو پر بنسټ پانګونی ته هڅه وی.
ii. د کار له پیل وروسته به دا لویې پروژې د هیواد داخلي اړتیاوې به ډېر ښه ډول مرفوع کوی.
iii. د دې پروژو په بشپړېدو سره به د هیواد صادرات له پخواني او دودیز حالت څخه وویستل شي او صادرات به پراختیایي او هدفمند پړاو ته داخل شي چې په دې توګه به د اسعارو د پام وړ ځان بسیاینې ته ورسیږي.
iv. په ځینو مواردو کې، دا واردات کموي، لکه تیل، مایع ګاز او نور.
v. هیواد ته انتقال شوې نوې ټیکنالوژي د نویو ساحو او مسلکونو د رامینځته کیدو او پراختیا لامل کیږي.
vi. کار ته د لا زیاتو ځوانانو د جذبولو په لټه کې، د ښاریانو د هوساینې کچه به ښه شي.
vii. د سرچینو د مصرف او تخصیص د څارنې لپاره د مالي ټیم جوړول.
viii. د محلي سوداګرۍ لپاره د هڅونې پروګرامونو جوړول.

c. د دې ستړې پروژې د تمویل بله لاره پر ښاریانو د تأمیناتو یا ونډو د خرڅلاو له لارې کېدای شي، چې د دې پلان مهمې بېلګې د سویز کانال او د پاناما کانال دي، چې ټول علاقمندان کولای شي په دې ستره ملي پروژه کې برخه واخلي او په جوړولو یې لاس پورې کړي. هیواد او د دوی سیمې مستقیمه برخه واخلي.
d. د کرنیز بانک بیا احیا یا د ملي ګډ اقتصادي بانک تر نامه لاندې د یوه نوي تاسیس په توګه د افغان ملت هر وګړی وکولای شي په پانګه کې برخه واخلي او هر وګړی وکولای شي. چه د خپل قدرت سره د زر افغانۍ څخه پیل او تر هر څو پورې چه کولی شي، پانګه اچونه وکړي او شریک شي. دا شراکت د ګډ او مساوي ګټې او تاوان پر بنسټ ولاړ دی.

پرمختیایي ماسټر پلان، د کرنیزو کوپراتیفونو جوړول، لوی صنعتي-کرنیز مرکزونه، د کروندګرو لپاره د مرستي فنډ، د دولتي ځمکو د سندونو څخه عواید، د ځمکې عادلانه ویش طریقې د عامه خصوصي مشارکت (PPP) قراردادونو پر بنسټ د ښځو او ځوانانو د رول پیاوړتیا به د قوش تیپی د مجتمعو د پروژې په پراختیا کښی په راتلونکې کې مهم رول ولوبوي.

د پام وړ تبصره!

دا طرحه یوازې یو وړاندیز دی او په هیڅ ډول نشي کولی چې د تخصصي امکاناتو مطالعاتو چمتو کول، د ماسټر پلان چمتو کول، د تفصیلي پلانونو چمتو کول، د مقرراتو او قوانینو چمتو کول، د خصوصي شرکتونو سره د همکارۍ لپاره د عامه شرکتونو رامینځته کول، د ټیکنالوژۍ لیږد قراردادونه او نور اړوند مسایل وڅیړی، ځای یی ونیسي او یا یی چمتو کړی.

موږ وړاندیز کوو چې ژر تر ژره د دې لویې او ملی پروژې د پراختیا لپاره یو خپلواک کمیسیون او یوه خپلواکه اجرایوي اداره د خصوصي سکتور په غړیتوب سره وټاکل شي چې د پورتنیو ذکر شویو څېړنو، ماسټر پلان او تفصیلی پلانونو چمتو کول او د دولتي خصوصی شرکتونو د جوړولو کار پیل ژر تر ژره په غاړه واخلی. د پرمختللو هیوادونو څخه د ټیکنالوژۍ لیږد لپاره باید یو ځانګړی کمیسیون وټاکل شي چې اړین ترتیبات ونیسي.

**و من الله توفیق**

## IX. ضمیمی

### 1. د اړینو څیړنو وړاندیز

1.1. د بازار څیړنه او د فصل انتخاب

څیړونکی د مفکورې او موقعیت پراساس، د فارمونو، سوپر مارکیټونو، او / یا توزیع کونکو سره بایداړیکی ونیسی ترڅو د نرخونو او پیرودونکو غوره توبونو په اړه دقیق معلومات رامینځته کړی. د دې مرحلې په پای کې به دوی د هراړخیز ډیټا راپور ولری ترڅو د فصل انتخاب په اړه پریکړې ته رسیدو کې مرسته وکړي.

1.2. د فارم ډیزاین اود تجهیزاتو انتخاب

څیړونکی د مفکورې، موقعیت، بودیجې او فصلونو په پام کې نیولو سره، به د فارم ډیزاین او د تجهیزاتو د چمتو کولو وړاندیز وکړی

1.3. اقتصادي تحلیل

پدې مرحله کې څیړونکی د فارم لپاره اقتصادي ماډل رامینځته کوی او د ROI) Return on Invetment )د پانګی پر سر لاس ته راغلی ګټی فاکتور شاوخوا تحلیلونه، د بیرته پرداخت اټکلونه، عملیاتي، او د پانګې لګښتونه شامل دي. د دې مرحلې په پای کې به پانګوال یو ګټور اقتصادي ماډل ولرئ چې د اعتبار وړ وي.

1.4. د پاینښت ارزونه

د یو ګټور اقتصادي پاینښت تعریف او ثبوت یوه مهمه اوستونزمنه څیړنه ده چه د ټولو امکاناتو او را ټوله شویو احصایو او ارقامو په مرسته سره باید تر سره شی. د دې په پای کې، پانګوال به د هغو ساحو په اړه ښه پوهه ولری چې ددوی پانګونه او عملیات په کوم ځای کې مثبت اغیزه لري. د څیړنو پر اساس وړاندیز شوې طرحه د پروژې د تخنیکي امکاناتو او مالي وړتیا ژوره ازموینه ده. پانګه او عملیاتي لګښتونه د پروژې د فزیکي او عملیاتي پارامیترنو پراساس دي. دا څیړنه به عموما د پروژې ټول اړخونه لکه فابریکه، کرهنه، لګښتونه، بازار، بشري سرچیني، سازمان ، مدیریت او نور ټول پوښي.

د امکان وړ څیړنو کې ممکن د لاندې کلیدي برخو ارزونه شامل وي:

1) طبیعي سرچیني، پشمول توپوګرافي، خاوره، اوبه، اقلیم او د ځمکې مناسبیت. دا معلومات د اټکل شوي فصل تولید او همدارنګه د پروژې شکل، اندازې او فزیکي ملکیتونو لپاره کارول کیږي.
2) زراعتي پوهه، په شمول د مناسبو ډولونو تخم پلان کول او تکثیر، د سرې اړتیاوې او د بوټو وژونکو آفتونو او ناروغیو ستونزې ، د څیړنې او پراختیا اسانتیاوې،
3) کرنیز تولید، په شمول د کرنې پراختیا پلان او د پاینښت لرونکي تولید سیستمونو پیژندل چې د پروژې لپاره مناسب دي.
4) د ساحې میکانیزم، د مناسبې ځمکې پراختیا، د حاصلاتو تولید، حاصلاتو او ترانسپورت لپاره د پانګې او عملیاتي لګښت اټکلونو په شمول.
5) ټولنې، په شمول د سیمه ایزو کروندګرو لپاره پراختیایی ماډلونه، د ټولنې ملاتړ پروژې او د بسپنه ورکوونکو د تمویل مناسبه ستراتیژی.
6) چاپیریال، د چاپیریال معیارونو او د پور ورکونکو او حکومتونو د چاپیریال مدیریت پلانونو سره موافقت په شمول.
7) بازارونه، د محصول مخلوط، قیمت، د بازار موندنې ستراتیژی او لوژستیک په شمول.
8) فابریکه، په شمول د محصول او ضمني محصول تعریف، د پروسې د جریان ډیزاین، ډله ایز توازن، د فابریکې مشخصات، د انرژۍ مدیریت، بسته بندي، ذخیره کول، او د فاضله اوبو او فاضله موادو بیا پروسس.
9) بشري سرچیني، په شمول د کاري ځواک پلان جوړونه او لګښتونه، د کار موندنې ارقام، تشکیلاتی چارټونه او روزنه.
10) زیربناوې، په شمول د سړکونو، ټولنیز زیربنا او د کارمندانو استوګنې او اسانتیاوې.
11) مالي تحلیل، په شمول د مالي جوړښتونو، پانګې او عملیاتي لګښتونو، مالي ماډلینګ، حساسیت تحلیل او د کلیدي اقتصادي شاخصونو لکه د بیرته راستنیدو داخلي نرخ Internal Rate of Return (IRR).
12) د څیړنو اصلي پایلې معمولا یو "پراختیایي پلان" دی چې د پروژې پلي کولو لپاره یو نقشه چمتو کوي، او یو "بانک وړ سند" چې د پروژې لپاره د پور اخستلو په وخت کې کارول کیدی شي.
13) د پورته ذکر شویو څیړنو پر بنسټ د یو جامع ماستر پلان جوړونه

**2. د کرنیزو څیرنواو لیکونو د انټرنیټ آدرسونه د معلوماتو لپاره**

**1)** Moving Towards Sustainability: The Livestock Sector and the World Bank
**2)** Abonnieren | Internationales Institut für Nutztierforschung
**3)** Standorteignungsanalyse für potenzielle landwirtschaftliche Flächen mit räumlicher Fuzzy-Multikriterien-Entscheidungsanalyse auf regionaler Ebene unter semiariden terrestrischen Ökosystemen | Wissenschaftliche Berichte
**4)** new_methods_for_feasibility_studies_on_establishm-wageningen_university_and_research_266401.pdf
**5)** Farm Plan Book Update_Web Version.pdf

## پای